مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۶/۰۸/۱۳

# د اور له ذاته یوکتاب

پرانیزه تنۍ، چې تږی زړه درواچوم
سیند د شیدو شاتو ته لیمه درواچوم

رنګ ته دې د شونډو که د زړه لال و پکار
ټول به بدخشان له ګریوانه درواچوم

راشه مازیګر، داسې خوږه لکه لنډۍ
ته که شرمېدې، نو لاس به زه درواچوم

یه د نور کتابه! چې روان یې لکه سیند
کړې به یې راوېښ که پښتانه درواچوم؟

ووایه دوزخه! نه پاخیږي په نارو
لاره بدلوې، که دا ویده درواچوم

شیخه! چې مې بولې په جانان پسې کافر
ته په عشق پوهیږې؟ که وابنه درواچوم

حوره یمه، مړ مې کړې په دوه اویا ښځو
بس دې ده لېواله! که لینده درواچوم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ